afghanistan
justice
archive

د افغانستان اسلامی امارت
ستره محکمه
د جنوب غرب زون تمیز عالي ریاست او قضائی معاونیت
ریاست دفتر

شماره: ۱۸

تاریخ: ۴ / ۱ / ۱۴۴۴

پیشنهاد	احکام
د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) محترم او عالی مقام ته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته الله تعالی مو محفوظ او منصور لره وبعد ، د غزني زون نظامي محکمي د تمیز عالي مقام ته په یوه استهداء کښې لیکلي دي ، چې زموږ د محکمې په کارونو کښې د غزني ولایت څارنوالي په پوره اندازه سره مداخله کوي ، حتی د محبس مسؤلین زموږ بندي تر هغه وخت پورې نه قبلوي تر څو چې څارنوالي هدایت نه وي ورته کړي ، او همداشان د یاد ولایت په محبس کښې داسې بندیان هم سته چې زموږ د نظامي محکمې مربوط وي شپږ میاشتې بې سر نوشته ناست وي ، انتظار وي چې اول څارنوالي تحقیق وکړي بیا یې محکمې ته سپاري او ددې په مثل نور مشکلات هم څارنوالي راته جوړ وي ، چې په مذکور موضوع کښې موږ ستاسې د محترم او عالي مقام څخه هدایت غواړو ، ځکه چې ستاسي هدایت وي واجب التعمیل دي . شیخ الحدیث الحاج مولوی سردارمحمد د جنوب غرب زون تمیز محکمې رئیس او د سترې محکمې معاون ۱۴۴۴/۱/۴ هـق	وکیل سو ۱۴۴۴/۱/۱۵ هـ ق د غزني ولایت مقام ته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! وبعد: د بندیانو په هکله د څارنوالۍ مداخله بنده کړئ ، تر څو چې د څارنوالیو لپاره یو جامع طرز العمل جوړیږي ، د اوس لپاره د بندیانو نیول او خلاصول د نظامي محکمي صلاحیت دی. والسلام دافغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام دفتر اداري ریاست د حکم شمیره: ۴۸ نیټه: ۱۴۴۴/۱/۱۵ هـ ق ۴۸